
**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

# مدني زده کړې

## اتم ټولگی



9 789936 250390

Ketabton.com

۱۳۹۰ هـ . ش.

جمهوری اسلامی افغانستان

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# مدني زده کړې

## اتم ټولګی

۱۳۹۰
هـ . ش

الف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مؤلفان:**
-محمد عزیز بختیاري
صفورا مزاري

**ژباړونکی:**

محمد افضل حضرتي

**مسلکي اډیټور:**

- محمد عزیز بختیاري

**د ژبې اډیټور:**

- بریالی باجوړی

**دیني، سیاسي او فرهنګي کمېټه:**

- مولوي عبدالصبور عربي
- دکتور محمد یوسف نیازی
- حبیب الله راحل د پوهنې وزارت سلاکار د تعلیمي نصاب دپراختیا په ریاست کې.

**د څارنې کمېټه:**

ـ دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین.

ـ دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول.

ـ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

**طرح او ډیزاین:**

رحمت الله غفاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم



## ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هــر افــغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمـــان دی
دا وطن د ټولو کـور دی — د بـــلوڅـــو د ازبکـــو
د پښتـــون او هزاره وو — د تــــرکمنـــو د تاجکـــو
ورسره عرب، ګوجــر دي — پـــامیــریان، نورستانیـــان
براهوي دي، قزلباش دي — هــم ایمــاق، هم پشه یان
دا هیــواد به تل ځلیږي — لــکــه لمــر پر شنه اسمان
په سینــه کې د اسیــا به — لــکــه زړه وي جــاویدان
نوم د حق مو دی رهبــر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر



(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د پوهنې د وزير پيغام
## ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤوليت په ريښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، دوطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير



(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرلیکونه


**لومړی څپرکی: ښوونه او روزنه**
**د څپرکي موخې**

مور ولې ښوونې او روزنې ته اړتیا لرو؟ ۳

آیا زده کړه یو خاص وخت او ځای ته اړتیا لري؟ ۷

**دویم څپرکی: اقتصاد او ژوند**
**د څپرکي موخې**

زموږ اقتصادي اړتیاوې له کومو لارو پوره کېږي؟ ۱۳

پیسې زموږ په ژوند کې څه ارزښت لري؟ ۱۷

په نړۍ کې اقتصادي اړیکې څه ډول دي؟ ۲۱




(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریم څپرکی: د ټولنیزو خدمتونو موسسې**

**د څپرکي موخې**

د ټولنیزو خدمتونو له موسسو سره آشنا شو(۱) ۲۷

د ټولینزو خدمتونو له موسسو سره آشنا شو(۲) ۳۱

د ټولینزو خدمتونو له موسسو سره آشنا شو(۳) ۳۵

**څلورم څپرکی: ډله ییزې رسنۍ**

**د څپرکي موخې**

د ډله ییزو رسنیو سره آشنا شو ۴۲

رسنۍ او ټولنه ۴۶



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## ښوونه او روزنه

په دې څپرکي کې دا لاندې لوستونه لولئ.

• موږ ولې ښوونې او روزنې ته اړتیا لرو؟

•آیا زده کړه یو ځانګړي وخت او ځای ته اړتیا لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دلومړي څپرکي موخې

له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې د دې څپرکي په لوستلوسره په لاندینیوموضوعاتو او مهارتونو پوه شي.

- زده کړې ته د انسان اړتیا درک کړي؛
- د ښوونې او روزنې مانا زده کړي؛
- د ښوونې او روزنې له لنډې تاریخچې سره آشنا شي؛
- د ښوونځي (زده کړه، اخلاقي روزنه، پالنه د نوښت روحیه) سره آشنا شي؛
- د زده کړې مختلف وسایل او شرایط وپېژني؛
- د زده کړې لپاره د ډول ډول شرایطو او وسایلونه کار واخلي.

لومړی لوست

# مور ولې ښوونې او روزنې ته اړتیا لرو؟





## پرتله یې کړئ:

انځورونو ته وګورئ او پوښتنو ته ځواب ورکړئ:

ستاسې په نظر د ماشوم او د حیواناتو د بچیانو تر منځ څه توپیر موجود دی؟

آیا انسانان کولی شي د حیواناتو په څېر د ښوونې او روزنې نه پرته د خپلو همنوعانو په شان خپل ژوند ته دوام ورکړي؟

## ښوونه او روزنه څه شی دی؟

ستاسې د اټکل سره سم، حیوانات د دې لپاره چې وکړای شي د خپلې مور اوپلار په څېر ژوند وکړي، زده کړې ته اړتیا نه لري؟ انسان کله چې له موره وزېږي، هغه په وخت خپل طبیعي او ټولنیز چاپیریال کې د ژوند په دود او طریقه هېڅ نه پوهېږي. خدای ﷻ چې د انسان او نړۍ پیدا کوونکی دی، د هغه له ټولو پیاوړتیاوو او کمزورۍ نه باخبره دی. دا حقیقت په قرانکریم کې داسې بیانوي:

خدای ﷻ تاسې د مور له بطن څخه را وایستلې په داسې حال کې چې په څه شي نه پوهیدئ او تاسې ته یې د اوریدو لپاره غوږونه د لیدو لپاره سترګې او زړه درکړل چې تاسې پرې شکر وباسئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د انسانانو او حیواناتو تر منځ یو اساسي توپیر هم دادی چې ماشوم باید زده کړې چې څه ډول ژوند وکړي، په داسې حال کې چې حیوانات همغه شانې رفتار کوي لکه څرنګه چې نرې ته راغلي وي او دهغوی د زده کړې توان ډېر لږ دی. نو له دې کبله انسان د دې لپاره چې انساني ژوند ولري ښوونې او روزنې ته اړتیا لري. خو **ښوونه او روزنه څه ته وايي؟**

ښوونه د زده کړې په معنا ده؛ مثلاً: کله چې ښوونکی تاسې ته لوست وايي تاسو ته ښوونه درکوي خو په ښوونځي کې د علم او زده کړې نه سر بېره ستاسې پټ استعدادونه هم غوړېږي د نوښت قوت مو زیاتېږي، عقل مو غښتلی کېږي او د شخصیت اخلاقي بنسټ مو شکل نیسي، ستاسې د پټو استعدادونو غوړېدل چې په تدریجي ډول پیښېږي، ښوونه او روزنه نومېږي.





## خبرې پرې وکړئ:

په څو ګروپونو وویشل شئ او خبرې پرې وکړئ چې ماشومانو په تېرو وختونو کې په څه ډول زده کړه کوله. د هغه وخت زده کړه او اوسنی زده کړه څه توپیر سره لري؟

څرنګه چې مخکې وویل شو، انسان هېڅ کله له ښوونې او روزنې بې برخې نه و: خو زده کړې د تاریخ په اوږدو کې ډېر توپیر کړی دی. په ډېرو پخوانیو زمانو کې د ښوونې او روزنې لپاره کوم ځانګړی ځای موجودنه و. نجونو او هلکانو له وړکتوب نه د مور، پلار او پخوانیو نسلونو د تجربو زده کړه په کور،څر ځایونو، ښکار ځایونو او کروندو کې پیل کوله او کله به چې د هلکتوب او ځوانۍ سن ته ورسیدل ټولې چارې به یې زده کړې. هغه وخت کارونه هم ډېر ساده وو او دهغو زده کړې هم ډېر وخت نه غوښت. د بشر علم او دخلکو پوهې په تدریج سره پراختیا پیدا کړه او د خط او کتابت د پیدا کېدو سره پوهانو په مختلفو موضوعګانو کتابونه ولیکل. له نن نه یوه پېړۍ مخکې هغو کسانو چې د تحصیل او لوست لپاره وخت درلود، نو تحصیل به یې کاوه او پاتې کسانو به زده کړه نه کوله، خو د کار مهارتونه به یې په عملي ډول نورو خلکو ته ورزده کول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د تېرې پېړۍ له نیمایي نه را پدې خوا زده کړې پراختیا پیدا کړه او په تدریج سره زده کړه اجباري شوه؛ عامه زده کړه په مختلفو هېوادوکې له لس نه تر دولسو کلونو پورې دوام کوي.

## فکروکړئ او ځواب ورکړئ:

لاندې پوښتنه په ځیر سره ولولئ او ځواب ورکړئ:

ستاسې په اند زده کوونکي په ښوونځي کې کوم کوم شیان زده کوي؟

ښوونځی د ښوونې او روزنې ځای دی او زده کوونکي په هغه کې ډېر شیان زده کوي. زده کوونکي په ښوونځي کې په پراخه توګه د ژوند ضروري پوهه او مهارتونه زده کوي. اخلاقي او ټولنیز آداب زده کوي او د نوښت روحیه لاس ته راوړي. د نن ورځې د انسانانو ژوند د تېرې پېړۍ له انسانانونه ډېر پېچلی دی. هر څوک چې غواړي په نړۍ کې بریالی ژوند ولري، باید نوي ضروري پوهه او مهارتونه لکه ټولنیزې او دیني چارې، ریاضي، فزیک، کیمیا، تاریخ، جغرافیه او ژبه زده کړي. د هېواد ماشومانو او ځوانانو ته په ښوونځي کې ضروري پوهه او مهارتونه ور زده کېږي چې هغوي په خپل ژوند کې بریالي انسانان او د ټولنې لپاره ګټور غړي شي. همدارنګه، دوی کولای شي په پوهنتون کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي او متخصصین شي.

### ټولنیزه او اخلاقي روزنه:

تاسې په تدریج سره په ښوونځي کې دا زده کوئ چې څرنګه د ښوونځي نظم او مقررات په پام کې ونیسئ. څرنګه ځان د دې مقرراتو سره عادت کړئ، او څرنګه د نورو سره مرسته وکړئ. تاسې به متوجه شئ چې په ټولنه کې ډول ډول خلک ژوند کوي، هغوي سره له دې چې یو واحد فرهنګ او دین لري، ډېر توپیرونه هم سره لري، موږ په کورنۍ، ښوونځي او ټولنه کې په تدریج سره اخلاقي او ټولنیز قواعد زده کوو. که چېرته د ټولنې ټول غړي دا قواعد مراعا ت کړي نو هېڅکله به د دوی تر منځ شخړه او جګړه پېښه نه شي او دټولنې نظم به وساتل شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نوښت د روحيې وده:

انساني ټولنه د هرې ورځې په تېرېدو سره بدلون مومي. په تکنولوژۍ او د انسانانو تر منځ په اړيکو کې دا بدلون او پرمختګ څرنګه منځ ته راځي؟ دا طبيعی خبره ده چې د پوهانو نوښتونه او په مختلفو برخو کې نوي لاسته راوړنې، د اقتصادي، علمي او ټولنيز بدلون او پرمختګ لامل ګرځي. په ښوونځي کې د زده کوونکو استعدادونه، بايد وغوړېږي. زده کوونکي يو مناسب چاپېريال ته ضرورت لري چې هغوي دا زده کړي چې څرنګه نوښت ولري او څرنګه هغه نوروته ور وښيي.

### د لوست تکرار:

۱-انسان د ژوند لپاره، ښوونې او روزنې ته اړتيا لري.
۲-ښوونه يعني زده کړه کول او زده کړه ورکول، روزنه يعني د انسان د پټو استعدادونو غوړېدل.
۳-زده کړه د تاريخ په اوږدوکې يو ډول نه وه.
٤-زده کړه په پخوا زمانو کې په غير رسمي توګه او د ټولو انسانانو له خوا سرته رسيده.خو نن ورځ په رسمي توګه د ښوونځي له لارې سرته رسيږي.
۵-د ښوونځي بنسټيزې دندې عبارت دي له: ښوونې، روزنې او د نوښت د روحيې وده.

### پوښتنې:

۱-که چېرته د انسان ماشوم له زېږېدو وروسته له انسانانونه جلاشي، آياکله چې لوی شي د خپل مور او پلار په شان به ژوند وکړي؟ ولې؟ توضيح ورکړئ.
۲-د آية شريف له ژباړې نه چې د لوست په لومړۍ برخه کې مو ولوست، څه پوه شوئ. په پنځو مخونو کې يې وليکئ.
۳-په اوسنيو ښوونځيو کې زده کړه د پخوا زمانې له زده کړې سره څه توپير لري؟
٤-تاسې په ښوونځيو کې کوم شيان زده کوئ؟

### فعاليت:

په دريوو ګروپونو ووېشل شئ، د لاندنيو موادونه د څو نمونو په موندلو سره يو رپوټ جوړ کړئ او وروسته يې په ټولګي کې ولولئ.
۱-برېالي انسانان، چې خپله ضروري پوهه او مهارتونه يې د زده کړې له لارې اخيستي وي:
۲-هغه انسانان چې د اخلاقي روزنې له امله د نورو لپاره مثال دي، او دا ځانګړتياوې يې د زده کړې له لارې لاس ته راوړې وي.
۳-د خلاقو اشخاصونوښت او نوي لاسته راوړنې.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آیا زده کړه یو خاص وخت او ځای ته اړتیا لري؟



په مخکې درس کې مو ولوستل چې انسان د ژوند کولو لاره، پوهه او مهارتونه له مخکنیو خلکو نه زده کوي، ماشومان په کلونو کلونو ښوونځي ته ځي او زده کړه کوي ترڅو  هغه پوهه او مهارتونه چې په ټولنه کې د ژوند لپاره لازم دي تر لاسه کړي.

## خبرې پرې وکړئ:

د لاندې پوښتنو په اړه خبرې وکړئ.

۱-آیا هغه معلومات چې له ښوونځي نه لاس ته راځي د ژوند اړتیاوو ته ځواب ورکولی شي؟

۲-ستاسې په اند د معلوماتو د غونډولو لپاره نورې لارې هم شته؟

د بني آدم ماشوم د زېږېدنې له لومړي ورځې نه په زده کولو پیل کوي. په تدریج سره د کورنۍ غړي پېژني او خبرې کول زده کوي. دا زده کړه په یو خاص زمان او مکان پورې محدوده نه ده او د انسان د ژوند په اوږدو کې دوام لري. کله چې موږ په کورنۍ، کوڅه ،ښوونځي او ټولو ځایونو کې له نورو سره ګډ ژوند کوونو په داسې حال کې چې ورځنۍ اړتیاوې پوره کوو، له نورو نه معلومات هم اخلواو نور معلومات هغوته ورکوو، دا اطلاعات  چې د ټولنې د غړوتر منځ ادل بدل کېږي، کیدای شي  چې له آداب معاشرت نه نیولې تر نړیوالو مهمو مسائلو پورې پکې شامل شي، د داسې ورځنیو اطلاعاتو لاسته راوړنې زموږ په فردي او ټولنیز ژوند کې خورا مهم رول لوبوي او د دې لامل ګرځي


چې موږ د تل لپاره په ټو لنه کې فعال او باخبره غړي پاتې شو. د داسې پوهې د ارزښت د پوهیدو لپاره، داسې سړی په نظر کې ونیسئ چې کوم بل هېواد ته یې سفر کړی وي او د اوږدې مودې لپاره هلته پاتې شوی وي؛ کله چې وروسته دا شخص بېرته خپل هېواد ته راستون شي، د پوښاك او خوراكي توكو له بیونه هېڅ خبر نه وي، د كالیو له مود سره هېڅ آشنایي نه لري او دخپل ښار د ټولنیز، امنیتي،اقتصادي او فرهنګي مسائلو سره تر ډېره حده پردی وي ځکه په دې موده کې چې هغه د خپل ژوند له ماحول څخه لیرې و په یادشویو چارو کې ډېر بدلون راغلی دي چې هغه ترې خبرنه دی. هغه اطلاعات چې د ژوند په ترڅ کې یې لاس ته راوړو د ارزښت د کچې له نظره سره یو شان نه دي. ځینې یې د معلوماتو له اړخه موږ ته خورا مهم دي. له دې کبله، باید هڅه وکړو چې د اطلاعاتو په زده کړه کې د خپلو امکاناتو او اړتیاوو په نظر کې نیولوسره د خپلو معلوماتو د کچې لوړولو او د اړوندو مهارتونو د لاس ته راوړلو لپاره باید کړنلاره ولرو.

## پرتله یې کړئ:

لاندې انځورونو ته وګورئ او پو ښتنو ته ځواب ورکړئ.

۱-د انځورونو تر منځ کوم ورته والی وینئ؟

۲-د انځورونو تر منځ کوم توپیر وینئ؟







(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ د خپلو معلوماتو او پوهې د کچې لوړولو او د اړتیاوړ مهارتونو د لاس ته راوړلو لپاره کولی شو له کتاب، مجلې، ورځپاڼې، انټرنټ، تلویزیون او رادیوګانو څخه استفاده وکړو او یا د کار خانو ماهرو کسانو ته ورشو او ترکاڼي، پینګري، قالینی او بدل او داسې نور زده کړو؛ اما تل باید دا په پام کې ولرو چې د دې وسایلونه دلاښې استفادې لپاره باید ځینې ټکي مراعات کړو. د بېلګې په توګه: د کتاب نه د استفادې په مهال د اړوندې موضوع په هکله، د کتاب د لیکونکي، د مطالبو ګټورتوب، د هغو سادګي او سختوالی د مطالبو سره علاقه او پر هغو باندې برلاسي ته پام وکړو. او لکه څرنګه چې د هر تلویزیون لیدل، د هرې رادیو اوریدل او د هر رنګه کتاب او مجلې لوستل ګټورنه دي، یوازې هغه یې چې ښه او ارزښناکه محتوا ولري د لیدو، اوریدو او لوستلو ارزښت لري.

## د لوست تکرار:

- د پوهې او مهارت زده کړه په وخت، ځای او خاص سن پورې اړه نه لري .
- هغه اطلاعات چې د ژوند په اوږدوکې یې لاس ته راوړو زموږ په فردي او ټولنیز ژوند کې خورا مهم رول لري.
- د اطلاعاتو په زده کړه کې، خپلو امکاناتو او اړتیاو ته پام او د زده کړې د کړنلارې درلودل ضروري دي.
- کتاب، مجله، ورځپانه، را دیو،تلویزیون، انټرنټ او ......... له هغو وسایلو څخه دي چې د اړوندو اطلاعاتو د لاس ته راوړلو لپاره کولی شو له هغو نه ګټه واخلو.
- دځاني زده کړې (خود آموزي) لپاره د داسې وسایلو لکه ټولنیزې رسنی، ځانته شرایط لري. چې باید هغه ته پاملرنه وشي.

## پوښتنې:

۱-له هغه وسایلو نه په ګټه اخیستلو سره چې په دې درس کې موولوستل، څرنګه کولی شو د پوهې او مهارت کچه لوړه کړو؟

۲-تاسې دخپلې پوهې او مهارت د کچې د لوړولو لپاره له کومو وسایلو څخه استفاده کوئ؟

٤-نور کوم وسایل پېژنئ چې له هغونه په ګټې اخیستلو سره، ضروري معلومات او مهارتونه تر لاسه کړئ؟

## فعالیت:

یو له لاندنیو موادونه وټاکئ، او غور پرې وکړئ چې د هغه نه د ښې استفادې لپاره کومو ټکو ته باید پاملرنه ولرو. د دې کار لپاره کولی شئ د لویانو (کورنی، ښوونکي.........) سره مرکه (مصاحبه) وکړئ او پایله یې په ټولګي کې بیان کړئ.

۱- مجله او ورځپاڼه ۲- رادیو او تلویزیون ۳- اینټرنټ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څپرکي لنډيز

- انسان د ځارويو برخلاف، ښوونې او روزنې ته اړتيا لري؛

- په ډېرو پخوا وختونو کې د زده کړې لپاره کوم ځانګړي ځای، شتون نه درلود. ماشومانو به په کورونو او ټولنه کې د ژوند کولو لارې چارې او مهارتونه زده کول.

- د ليک د اختراع او د ليکنې له مهارت څخه وروسته يوازې هغه خلک چې پوره وخت او امکانات به يې درلوده، په زده کړه بوختيدل. د تېرې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې، ټولنيزې زده کړې پراختيا موندلې او پر او پر پړاو جبري وګرځيده.

- ښوونځی د ښوونې او روزنې ځای دی او زده کوونکي په هغه کې زده کړه کوي.

- زده کوونکي په ښوونځی کې پوهه او د ژوند اړين مهارتونه زده کوي. د اخلاقو او ټولنيزتوب له پلوه روزل کېږي او د نوښت روحيه پکې پياوړې کېږي.

- زده کړه يوازې د ښوونځي او پوهنتون په دوره پورې نه محدوديږي بلکې انسان د ژوندانه په ټوله دوره کې د ټولنيز ډګر په هره برخه کې زده کړه کوي.

# دویم څپرکی

## اقتصاداو ژوند

په دې څپرکي کې دا لاندې لوستونه لولئ.

- زموږ اقتصادي اړتیاوې له کومو لارو پوره کیږي؟
- پیسې زموږ په ژوند کې څه ارزښت لري؟
- د نړۍ خلک له یو بل سره څه ډول اقتصادي اړیکې لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دویم څپرکي موخې

هیله ده چې زده کوونکي د څپرکي په پای کې زده کړي چې:

- ولې موږ اقتصادي فعالیت ته اړتیا لرو؟
- اقتصادي فعالیت د شیانو د تولید او یا د خدمتونو د وړاندې کولو په بڼه وي؟
- پیسې څنګه منځ ته راغلې او د تاریخ په اوږدو کې یې کوم پړاوونه وهلي دي؟
- پیسې زموږ په اقتصادي ژوند کې څه په دردخوري؟
- بانک کوم خدمتونه وړاندې کوي؟
- د نړۍ د هېوادو تر منځ اقتصادي اړیکې څه ډول دي؟
- نړیوال سوداګریز سازمان د نړۍ د هېواد و په اقتصادي اړیکو کې څه رول لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ اقتصادي اړتیاوې له کومو لارو پوره کیږي؟



تېر کال مو زده کړل چې انسان يو اړموجود دی او ډول ډول اړتیاوې لري.
یوه له اساسي اړتیاوونه د انسان اقتصادي او مادي اړتیاده. دا ښکاره ده چې د انسان معنوي اړتیاوې د اهمیت وړدي خومادي او اقتصادي اړتیاوې هم زموږ په ژوند کې ډېرې مهمې او حیاتي دي.

## خبرې پرې وکړئ:

موږ ډېرې اقتصادي اړتیاوې لرو چې خواړه، کالي او استوګنځی د هغو له جملې نه دي. يو له دې نه غوره کړئ او خبرې پرې وکړئ چې خلک د هغو د پوره کولو لپاره څه ډول کارونه سرته رسوي.
مادي اړتیاوې انسان هڅې او فعالیت ته اړ باسي ترڅو هغه اړتیا پوره کړي. د همدې دلیل په بنسټ ځینې فعالیتونه چې موږ يې سرته رسوو، د ژوند د وسایلو برابرول دي چې اقتصادي فعالیت ورته ويل کیږي.
دنده او کار هم د اقتصادي فعالیتونو برخې شمېرل کیږي ځکه چې زموږ اقتصادي اړتیاوې پوره کوي.

### غور پرې وکړئ:

لاندې کسبونه او دندې په نظر کې ونیسئ او اړوندو پوښتنوته ځواب ورکړئ:
بزګري، کارګري، طب، ماموریت، پیریدنه.
۱-په دې هر یوه کسب کې کوم اقتصادي فعالیتونه سرته رسیږي؟
۲-د دغوکسبونو د اقتصادي فعالیت په ډول کې څه توپیر لیدل کیږي؟

ستاسې په نظر: په دې انځور کې کوم ډول اقتصادي فعالیت لیدل کیږي؟

هر څوک په ټولنه کې یو کسب او دنده لري او دهغه په وسیله د نورو او د خپل ځان د اړتیاوو د پوره کولو لپاره په اقتصادي فعالیت لاس پورې کوي.په ټولیز ډول اقتصادي فعالیتونه په دو و ډولونو وېشل کیږي. (تولید) او (خدمت)؛ تولید هغه دی چې د فعالیت نتیجه د یوه خاص شي په ډول وړاندې شي خو په خدمت کې یوازې اسانتیاوې د نورو لپاره وړاندې کیږي او د لیدو وړ شیان په کار نه وي.





(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه بزگر چې په ځمکه کې په کرنه بوخت دی،یا هغه کارگران او انجینران چې په کار خانوکې د خپل کار او فعالیت پواسطه یو محصول تولید وي، مالداران چې د څارویو پالنه او دهغو د اړوندو محصولاتو په برابر ولو بوخت دي، یو ډول اقتصادي فعالیت سرته رسوي چې د هغه په ترڅ کې شیان (( تولیدوي)) هغه ډاکتران چې په روغتونونو کې فعالیت کوي او هغه کارکونکي چې په ادارو او سازمانونو کې کار کوي، او هغه سوداگراو یا خرڅوونکي چې کرنېز او یا د کارخانو محصولات وېشي ( توزیع کوي) هم یو ډول اقتصادي فعالیت سرته رسوي چې دا ډول فعالیتونو ته (خدمت) ویل کېږي.






(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درس تکرار[۱]

• هغه فعالیتونه چې د ژوند د وسایلو د برابرولو لپاره سرته رسېږي، اقتصادي فعالیتونه ورته ویل کېږي،

• ----------------------------------------

• ----------------------------------------

• ----------------------------------------

• ----------------------------------------

## پوښتنې:

۱- کومو کړنو ته اقتصادي فعالیتونه ویل کېږي؟

۲- د اقتصادي کړنو ډولونه کوم دي؟

۳-پرته د هغو موضوعګانو چې په لوست کې مو راوړي دي د تولید،توزیع او خدمتونو په اړه مثال راوړئ.

## فعالیت:

یو کسب په نظر کې ونیسئ، د لاندې پوښتنود ځواب لپاره یو رپوټ جوړ کړئ او ټولګي ته یې وړاندې کړئ.

۱-دا کسب د کوم ډول اقتصادي فعالیت له اجزاو څخه شمېرل کېږي؟

۲-د دې کسب د زده کړې لپاره کومو مهارتونو او پوهې ته اړتیا ده؟

---

(۱) ګران زده کوونکي دې لدې وروسته د درس تکرار پدې ځای یا خپلو کتابچو کې ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیسې زموږ په ژوند کې څه ارزښت لري؟



## خبرې پرې وکړئ:

لاندې پوښتنې په غور سره ولولئ او خبرې پرې وکړئ.

۱-که چېرته یوه ورځ په بازار کې پیسې نه وې، خلک به د خپل ورځني ژوند د اړتیاوړ توکي او شیان څنګه برابروي؟

۲-ستاسې په نظر په تېرو وختونو کې چې پیسې نه وې خلکو څه ډول راکړه ورکړه کوله؟

په ډېرو پخوا زمانو کې د خلکو ژوند ډېر ساده او معمولي و؛ ډېرو کورنیو به خپلې اړتیاوې پخپله تولیدولې چې معاملو او راکړې ورکړې ته ډېره اړتیانه لیدل کېده؛ کله به چې د کومې کورنۍ کوم شي ته اړتیا پیدا شوه هغه مجبور وچې د یو بل شي په بدل کې هغه شی لاس ته راوړي. دا ډول معامله د لاس په لاس معاملې په نوم یادېږي چې تراوسه هم د هېواد په لرې پرتو سیمو کې دود دی.د انساني ټولنې په لوئیدو او پراخیدو سره او همدارنګه د هغو ستونزو له کبله چې دا ډول راکړې ورکړې درلودلې، خلکو په پایله کې دا پرېکړه وکړه چې یو ډول څیز چې ټولو خلکو هغه ته اړتیا درلوده او د هغه (پیسو) نه د راکړې ورکړې د وسیلې په توګه استفاده وکړي. په مختلفو

هېوادو کې له ډول ډول شيانونه د پيسو په نوم د راکړې ورکړې لپاره استفاده کيدله لکه: اوسپنه، ځرمن، سپين زر،برونز او نور. څرنگه چې له دې څيزونو څخه ځينې يې دوخت په تېريدو سره له منځه تلل او خرابيدل او همدارنگه زيات وزن يې درلود، انسانان په دې فکر کې شول چې د دې پر ځای د فلزي پيسو يا سکو څخه استفاده وکړي

## پرتله يې کړئ:

### ستاسې په نظر

١- ديو ميليون افغانيود( پنځه گون) سکو د ځای پرځای کولو لپاره څو کسانوته اړتياده؟

٢ - ديو ميليون افغانيو د (زريزنوټونو) د ځای پر ځای کولو لپاره څوکسانوته اړتياده؟

کله چې شتمني زياته شوه او د معاملو حجم زياتوالی پيدا کړ،سکو هم ونه شوای کولای چې د خلکو د اړتياو ځواب ووايي. نو په همدې دليل به سوداگرو خلکو ته د سيکې پر ځای رسيد ورکاوه. په رسيدورکولو کې دا ستونزه وه چې کله به سوداگر له ماتې سره مخ شول او په خپلو وعدوبه يې وفانه کوله. له دې کبله به خلکو ته ستونزې پيدا کيدې. د دې ستونزو د له منځه وړلو لپاره د هغه وخت دولتونو دا تصميم ونيو چې کاغذي پيسې چاپ کړي. په دې ډول کاغذي پيسې چې د دولت په بانکونو کې يې د طلا او نقرې پشتوانې درلودې منځ ته راغلې. نن ورځ هر هېواد خپلې ځانگړې پيسې لري. زموږ د هېواد د پيسو واحد افغانی ده.

په پر مخ تللی اقتصاد کې د فلزي او کاغذي پيسو نه پرته د چک و د اعتبارکارت نه هم استفاده کېږي. چک او د اعتبار کارت د معاملو چارې ډېرې آسانه کړې دي.

## خبرې پرې وکړئ:

د لاندې موضوع په هکله خبرې وکړئ.

١ آيا تاسې او کورنۍ مو له بانک څخه استفاده کوئ؟

٢ -آيا پوهېږئ بانکونه کومې چارې سرته رسوي؟

## بانک:

نن ورځ د نړۍ په ټولو هېوادو کې د بانک په نامه يوه مؤسسه فعاليت کوي چې د خلکو پيسې ساتي او له يوه ځايه يې بل ځای ته انتقالوي او د مختلفو هېوادو پيسې يو بل سره بدلوي. زموږ په هېواد کې ډېر شمېر دولتي او خصوصي بانکونه کار کوي زموږ مرکزي بانک د افغانستان بانک دی.بانکونه ډول ډول خدمتونه وړاندې کوي چې مهم يې په لاندې ډول دي:



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خلکو د پیسو ساتنه:

بانک د پیسو ساتنې یو ډاډمن ځای دی. کله چې موږ خپلې پیسې په بانک کې ږدو هغه د ورکیدو او سوځیدو له خطره ساتو. هر کله چې پیسو ته اړتیا پیدا کړو، بانک ته ورځو او له خپل حساب څخه پیسې اخلو.

## د پیسو انتقال:

هر کله چې اړتیا پیدا شي خپلې پیسې له یوه ښار څخه بل ښار ته انتقال کړو، د دې پر ځای چې هغه په خپله یوسو پخپل ښار کې هغه بانکي حساب ته اچوو او دهمدې بانک له څانګې نه یې په بل ښار کې لاس ته راوړواو یا یې د بل چا په نامه لېږو ترڅو یې لاس ته راوړي.

## پانګه اچونه:

بانکونه د خلکو لږې لږې پیسې ټولوي او په هغوباندې سترې پروژې په کار اچوي چې د ملک د پرمختګ لامل ګرځي.

## د پور ورکړه:

ځینې بانکونه هغو کسانو ته چې اړتیا ولري، پور ورکوي او په اوږده موده کې یې د قسط په ډول لاس ته راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درس تکرار:

- ---------------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------------

## پوښتنې:

۱. د لاس په لاس راکړه ورکړه څه ده؟ توضیح ورکړئ.
۲. کله چې د لاس په لاس راکړه ورکړه دود وه پلورونکو او پیرودونکو کومې ستونزې درلودلې؟
۳. اوسپنیزو سکو په معاملاتو کې څه بدلون راوست؟
٤. کوم ضرورتونه د کاغذي بانک نوټونو د را پیدا کیدو لامل وګرځیدل؟
٥. د بانکونو دندې وښیاست.

## فعالیت:

لاندې فعالیت سرته ورسوئ د هغه پایله یادداشت کړئ او په ټولګي کې یې ولولئ.

- که چېرته بانک ته نیږدې ژوند کوئ د کورنۍ یو مشر سره بانک ته ولاړشئ اوله نیږدې نه وګورئ چې د بانک کارکونکي خلکو ته د پیسو ورکولو او یا د پیسو اخیستلو په وخت کې کوم کارونه سرته رسوي؟
- که چېرته بانک ته لاس رسی نه لرئ نو له یو چانه پوښتنه وکړئ چې له بانک سره آشنایي ولري.

# په نړۍ کې اقتصادي اړیکې څه ډول دي؟



## خبرې پرې وکړئ:

خپل شخصي وسایل په نظر کې ونیسئ او دهغوله جملې نه د لسو شیانو لست جوړکړئ او بیا و ګورئ چې کوم هېواد جوړ کړي دي. د جوړونکي هېواد نوم د هر یوه په وړاندې ولیکئ. ولې د مختلفو هېوادونو محصولات په بازار کې موجود دي؟ د دې خبرې (بررسي) نه کومې پایلې ته رسیږو؟

کله چې د یوشي د رانیولو (پیریدلو) لپاره بازارته ځو، په هټیو کې د مختلفو هېوادو محصولات وینو. د بېلګې په توګه چینایي کالي، پاکستاني ټوکران، ایټالوي بوټونه او ایراني فرشونه د داخلي (کورنی) محصولاتو تر څنګه لیدل کېږي.

نن ورځ د نړۍ په ټولو هېوادونو کې د بازار و ضعیت همدا ډول دی او هېڅ داسې هېواد نشته چې په هغه کې د نورو هېوادونو محصولات نه وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړۍ د هېوادونو طبيعي، انساني او تکنولوژيک امکانات سره توپير لري، له دې کبله د هغوی وس هم د محصولاتو په توليدولو کې يو شان نه دی.

ځينې هېوادونه د زراعتي توکو د توليد لپاره مناسبه آب و هوا لري، ځينې په زياته کچه تيل ( نفت) لري او ځينې نور بيا صنعتي پر مخ تللي توليدات لري.

کوم هېواد چې د يو ډول محصول لپاره مناسب شرايط و نه لري او وغواړي هغه توليد کړي، د توليد لګښت لوړيږي او توليدشوي شيان ګران تماميږي. له دې کبله له اقتصادي اړخه به د دې هېواد په ګټه وي چې که څېرته دا ډول توکي او شيان له نورو هېوادونو څخه وپيري او هغه محصولات چې په خپله کولی شي په مناسبه بيه يې توليد کړي، نورو هېوادوته يې صادر کړي، په دې توګه به په نړيوالې سوداګرۍ کې ښه والی راشي او ډول ډول محصولات به له يو هېواد نه بل هېوادته انتقال ومومي.

د نړيوالې سوداګرۍ د آسانتيا لپاره په ۱۹۹۵ ميلادي کال کې د نړيوال سوداګريز سازمان په نامه يو سازمان پرانيستل شو چې کوربه يې د ژنيو ښار دی. دا وخت ۱۵ هېوادونه د دې سازمان غړي دي. دا سازمان داسې قوانين لري چې نړيواله سوداګري سمه او آسانه کوي. ټول غړي بايد د دې سازمان قوانين رعايت کړي. افغانستان د کتونکي ( ناظر) په توګه په دې سازمان کې شتون لري چې تراوسه يې د دې سازمان غړيتوب نه دی ترلاسه کړی.

## خبرې پرې وکړئ:

هېوادونه معمولاً د هغو شيانو په بدل کې چې واردوي يې، ځينې شيان صادروي هم.
آيا پوهيږئ، زموږ هېواد کوم شيان صادروي؟
ستاسې په نظر زموږ صادرات ډېر دي او که واردات؟

په نړيوال بازارکې هر هېواد ځانته ځانګړی ځای لري. هغه هېوادونه چې ډېر توليد کوي، کولی شي چې په نړيواله سوداګرۍ کې زياته ونډه واخلي او بالعکس،هغه هېوادونه چې د توليد کچه يې ټيټه ده په نړيوال سوداګريز بازار کې لږه ونډه لري. افغانستان پخوا غالی،کرنيز او د څارويو محصولات ټولو هېوادونو ته صادرول او په دې ډول يې په نړيوالې سوداګرۍ کې خورا ښه مقام درلود. خو په دې وروستيو کلونو کې د هېواد په توليداتو او صادراتو کې ډېر کمښت راغلی دی.

د هېواد تقريباً ټول لګښتي توکي له ګاونډيو ملکواو سيمې څخه را وارديږي. موږ بايد هڅه وکړو چې اقتصادمو بيا ښه والی پيدا کړي ترڅو په نړيوال بازار کې يوازې مصرف کوونکي ونه او سو بلکې لکه د نورو ټولو هېوادونو په څېر بايد توليد هم ولرو.

## د درس تکرار:

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې:

۱- د محصولاتو په توليد کې د هېوادونو وس او بې وسې څه معنا لري؟
۲- ولې د محصولاتو د توليد دوس ( توانائی) توپير د هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د پراختيا لامل ګرځي؟
۳- نړيوال سوداګريز سازمان د کوم کار لپاره پرانيستل شوی دی؟
٤- آيا افغانستان د نړيوال سوداګريز سازمان غړی دی؟
٥- افغانستان په نړيوالې سوداګرۍ کې کوم مقام لري؟

## فعاليت:

د کورنۍ د خوراکي توکو يو لست مو چې په يوه شپه او ورځ کې يې مصرفوی برابر او وليکئ چې دا توکي له کوم هېواد نه راغلي دي. په آخر کې وګورئ چې څو فيصده يې کورني او څو فيصده يې بهرني دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څپرکي لنډيز

- انسان زياتې اقتصادي اړتياوې لري.
- اقتصادي اړتياوې موږ فعاليت او هڅه کولو ته مجبوري.
- اقتصادي فعاليتونه په ټوليزه توګه په دوه ډوله وېشل کېږي: توليد او خدمت.
- توليد هغه ډول اقتصادي فعاليتونو ته ويل کېږي چې په پايله کې يې ځانګړي شيان منځته راشي.
- خدمت: هغه ډول فعاليت ته ويل کېږي چې نوروته يوازې آسانتياوې وړاندې کوي او شيان نه توليديږي.
- په ډېرو پخوا زمانو کې انسان په راکړه ورکړه کې له پيسو څخه کار نه اخيسته او جنس به يې د بل جنس سره بدلولو.
- کرار، کرار فلزي پيسې او يا سيکې منځته راغلې او تر هغو وروسته کاغذي پيسې يا بانکنوټونه رواج شول.
- نن سبا دسيکې، کاغذي پيسو، بانکي چکونو او اعتباري کارتونو څخه په راکړه ورکړه کې کار اخيستل کېږي.
- نن سبا د بانک په نامه سترې موسسې منځته راغلي دي چې د خلکو پيسې ساتي، له يوه ځای څخه يې بل ځای ته ليږدوي. د خلکو په لږوپيسو سره، سترې پانګونې کوي او هغه چاته چې اړوي پور وکوي.
- نن سبا د نړۍ خلک يو له بله سره اقتصادي اړيکې لري. ډول ډول حاصلات د سوداګري په ډول له يوه هېواد څخه بل هېواد ته ليږدوي.
- د نړيوالې سوداګرۍ د تنظيمولو په خاطر ( د سوداګرۍ نړيوال سازمان ) جوړ شوی دی. له بده مرغه چې زموږ هېواد په هغه کې فعاله ونډه او يا رول نه لري. موږ بايد په هغه کې د خپل هېواد د مقام دلوړيدو په خاطر هلې ځلې وکړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## د ټولنیزو خدمتونو موسسې

په دې څپرکي کې لاندې لوستونه لولئ.

- د ټولنیزو خدمتونو له موسسو سره آشنا شو(۱)
- د ټولنیزو خدمتونو له موسسو سره آشنا شو(۲)
- د ټولنیزو خدمتونو له موسسو سره آشنا شو(۳)



د ترافیکو پولیس د دندې د اجراکولو په حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دریم څپرکي موخې

له ګرانو زده کوونکو څخه هیله کیږي چې ددې څپرکي له ختمیدونه وروسته زده کړي چې:

- پست یو د ټولنیز و خدمتونو له موسسو څخه دی چې د خلکو مکتوبونه، خېروني او نور وسایل د خرګندو او ځانګړو پتو ( ادرس) له مخې له یوه ځای څخه بل ځای ته وړي.
- مخابرات د خلکو تر منځ اړیکي د تیلفون، فکس او اینټرنټ له لارې ټینګوي.
- سره میاشت هغه سازمان دی چې دخلکو او دولت مرستې د ډول ډول پېښو څخه زیانمن شوو خلکو ته رسوي.
- خلک د مختلفو بیمو څخه په ګټې اخیستنې سره کولی شي چې د پېښو څخه د وراوښتیو زیانونو یوه برخه جبران کړي.
- د عمومي پارکونو، سرکونو، کوڅو او سیل ځایونو پاکول او د ښار ښکلا د ښاروالي دنده ده.
- پولیس د خلکو امنیت تامینوي.
- ترافیک په ښارکې د نقلیه وسایلو تګ راتګ تنظیموي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست

# د ټولنيزو خدمتونو له موسسو سره آشنا شو(۱)



په تيرو څپرکيو کې د بانک او ښوونځي سره، خلکو ته د خدمتونو د وړاندې کوونکو موسسو په نامه آشنا شوئ. په دې لوست کې هم د دوو نورو خدمت کوونکو موسسو سره آشنا کيږئ.

## خبرې پرې وکړئ:

انسان هر وخت اړتيا درلوده چې د نورو سره اړيکې ټينګې کړي. ستاسې له نظره:

۱. په تيرو وختونو کې د انسانانو ترمنځ اړيکې څه ډول ټينګيدې؟


۲. نن ورځ انسانان له کومو لارو څخه په ګټه اخيستنې سره خپل منځي اړيکې ټينګوي؟

۳. آيا د اړيکو آسانتيا لپاره موسسې شته؟ نومونه يې واخلئ.

ډاګ( پست )څه چارې سرته رسوي؟

زموږ د اړيکو د اړتياو څخه يوه يې هم داده چې غواړو ځينې نسبتاً واړه څيزونه له يوه ځای څخه بل ځای ته وليږو؛ يا يو ليک د کورنۍ يوه غړي يا هغه دوستانو ته چې په کوم بل ښار او يا هېواد کې اوسيږي، وليږو. ډاګ يو له هغو موسسو څخه دی چې د دې ډول چارو د سرته رسولو

لپاره جوړ شوی دی. موږ د ډاگ له لارې کولای شو چې : لیک، د مبارکۍ کارت، کتاب، ورځپاڼه او داسې نور څیزونه نورو خلکوته ور ولیږو.




## لیک څه ډول لېږل کیږي؟

د کورنۍ یوه غړي یا خپلو خپلوانو ته د لیک لېږلو لپاره دغه لاندې پړاوونه سرته رسوو:

- د لیک پاکټ تیه کوو.
- خپل لیک لیکو او په هغه کې یې کېږدو.
- دلېږونکي او اخیستونکي پته د پاکټ په شا په ټاکلی ځای باندې لیکو.
- په پاکټ باندې پستي ټکټ نښلوو.
- پاکټ د پست مسؤول سړی ته سپارو او یا یې په پستي صندوق کې اچوو.

### خبرې پرې وکړئ:

لاندې پوښتنې ولولئ او خبرې پرې وکړئ:

۱. په پخوا زمانو کې خلکو څه ډول خپل پیغامونه لرې ځایونو ته استول؟

۲. نن ورځ د دې کار لپاره کومې لارې شته؟ ویې وایئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## مخابرات کوم خدمتونه سرته رسوي؟

مخابرات هم د هغو موسسو له ډلې څخه دي چې زموږ اړيکې له نورو سره ټينګوي. په مخابراتو کې په کورونو او اداروکې ثابت ټيلفونونه، ګرځنده ټيلفونو نه ( موبايل)، فکس او انټرنټ شامل دي.

دغه امکانات او د اړيکو نيولو نوي وسايل زموږ سره مرسته کوي ترڅو خپل کارونه ژر او په ښه توګه سرته ورسوو. دغه وسايل زموږ د اړيکو د ټينګولو د آسانتيا وو په خاطر رامنځته ( اختراع) شوي دي. مخابرات زموږ سره مرسته کوي چې خپلې د اړيکو اړتياوې په چټکۍ، آسانۍ او لږ لګښت سره له منځه يوسو.



د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټیلفون په واسطه کولی شو یو له بله سره خبرې وکړو. د موبایل په وسیله کولی شو یو له بله سره خبرې وکړو، لنډ پیغامونه ترلاسه کړو او ویې لېږو، د فکس په واسطه د خپلو سندونو انځورونه لېږو ، اینټرنټ موږ ته دلېږلو د ایمیل ( برېښنالیک) امکانات برابروي. همدارنګه د اینټرنټ له لارې کولی شو چې د نړۍ مهم خبرونه ولولو او مختلفې علمي زېرمې پیدا کړو.

**د لوست تکرار:**

- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------

**پوښتنې:**

۱.که چېرې وغواړئ چې یو دوست ته چې په بل ښار کې اوسیږي، لیک واستوئ له کومې وسیلې څخه کار اخلئ؟
۲.که چېرې وغواړئ چې لیک د پست له لارې ولېږئ، دغه کار څه ډول سرته رسوئ؟
۳.فکس کوم کار سرته رسوي؟
٤. برېښنا لیک(ایمیل) څه شی دی او موږ څه ډول ګټه له هغه څخه ترلاسه کولی شو؟

**فعالیت:**

تاسې د پست او مخابرې څخه کومې ګټې تر لاسه کوئ؟ پخپلو کتابچو کې یې یادداشت کړئ چې په یوه وروستنی میاشت کې مو کومې ګټې له پستې او مخابراتو څخه ترلاسه کړې دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټولنيزو خدمتونو د موسسو سره آشنا شو(۲)



د زلزلې د طبيعي پيښو له کبله د کورونو نړيدل

په تېر لوست کې د ټولنيزو خدمتونو له دو و موسسو سره آشنا شوئ. په دې لوست کې له دوونورو مؤسسو سره آشنا کېږئ.

## خبرې پرې وکړئ:

حتماً مو د خپل مور او پلار څخه د ځينو پېښو لکه: زلزله، طوفان او جگړو په هکله يو څه اوريدلي دي. کله چې دغه راز پيښې،رامنځ ته شي، زيات شمېر خلک بې کوره، بې سرپرسته،ژوبل او يا هم مړه کېږي. ستاسې له نظره:

۱. ولې خلک يو له بله سره زړه سوی اوغم شريکی، کوي؟


۲ خلک له کومو لارو څخه د زيانمن شويو سره خپل زړه سوي او غم شريکی ښکاره کوي؟

۳. آيا هر سړی بايد پخپله خپلې مرستې زيانمن شووکسانوته ورسوي او يا د دې کار لپاره بله ښه لاره شته؟

## هلال احمر او يا سره مياشت:

کله چې خلک له داسې ستونزوسره لاس اوگريوان شي چې په يوازې توگه هغه نه شي حل کولی، نو په داسې حال کې د دې هيله لري چې خپلوان، قوميان، وطنداران او حتی د نورو هيوادونو خلک له هغوی سره مرسته وکړي. کله چې ځينې خلک د کومو پېښو له کبله زيانمن کېږي، نور خلک بايد د

هغوي مرستې ته ور ودانگي. که چېرې پېښه او اړولې زيان يې کم وي په دې حالت کې خلک کولی شي چې په مستقيم ډول پخپله زيانمن شوو خلکوته مرستې ورسوي خو کله چې پېښه لويه وي مثلاً يو ښار د سيل، زلزلې، طوفان او يا جگړې لاندې راشي، په دې صورت کې يوې موسسې او يا سازمان ته چې قوي مديريت (اداره) او بشپړ امکانات په واک کې ولري، اړتيا پيداکوي. هغه سازمان چې دغه کار سرته رسوي په اسلامي هېوادونو کې د ((هلال احمر)) او په نورو هېوادونو کې د ( سورصليب ) په نامه ياديږي.زموږ په هېواد کې ورته ( سره مياشت) وايي. دغه سازمان په ټولو هېوادونو کې بشپړ بې طرفه دي او د بشر دوستانه موخو په سرته رسولو کې د زيانمن شوو سره د مرستې په چارو کې چې د طبيعي پېښو په واسطه زيانمن شوي وي، هڅه کوي. د سره صليب او هلال احمر انځورونو ته په لاندې نښونښانو کې پام وکړئ.



ځينې مؤسسې د ځانگړو ستونزو ( لکه د جگړې ځپلو هېوادونو ستونزې) د حل کولو لپاره پرانيستل کېږي د بېلگې په توگه د ماين پاکولو موسسې دنده لري چې د جگړې له دوران پاتې شوی ماينونه را ټول کړي، له همدې ډلې څخه شمېرل کېږي. ماين پاکوونکي هغه سيمې چې ماينونه پکې ښخ شوي دي په سرو ډبرو او هغه سيمې چې له ماينونو څخه پاکې شوي دي، په سپينو ډبرو په نښه کوي. شنې ډبرې شکمنې سيمې په گوته کوي. له دې کبله موږ بايد په هغو سيمو کې چې په سرو او شنو رنگونو په نښه شوي وي، له تگ او راتگ څخه ډډه وکړو. همدارنگه موږ بايد هېڅ کله نا چاودلو او شکمنو شيانو ته لاس ورنه وړو.

## خبرې پرې وکړئ:

تراوسه پورې مو خامخا د طبيعی زيان اړوونکو پېښو په باره کې يو څه آوريدلي او يا هم لوستلي دي، ستاسې له نظره:

۱.کوم خطرونه د انسان ژوند گواښوي؟

۲.ديوې خطر ناکې طبيعي پېښې لکه ( زلزله، اور، سيل، ترافيکي پېښو) د پېښيدو له کبله انسانانو ته کوم زيانونه رسيږي؟

۳.څرنگه کولی شو چې د طبيعي پېښو څخه اوښتي زيانونه جبران کړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بیمه څه شی ده؟

زموږ ژوند ځینې خطرونه لکه آور لګیدنه، زلزله، سیل، د موټرو ټکر، ډول ،ډول ناروغی، غلا او داسې نورګواښوي ( تهدیدوي) د دې پېښو څخه ځینې یې مخکې له مخکې نه د وړاندوینې او مخنیوی وړنه دي. له دې کبله باید چې هر سړي او یا شرکت د دې ډول خطرونود کمیدو لپاره مخکې له مخکې لاره چاره لټولې وي. د بیمې موسسه د دغه ډول زیانونو د جبران په خاطر منځته راغلې ده.

د بیمې موسسه د یوه سړي یا شرکتونو زیانونه تر ټاکلو شرطونو لاندې تضمینوي دغه موسسه له اشخاصو او یا له هغو شرکتونو څخه چې بیمه شوي دي، د میاشتې یا د کال یوه ټاکلې اندازه پیسې تر لاسه کوي او په مقابل کې یې کله چې د هغوی څخه ځینې یې د کومې پېښې سره مخامخ شي، د هغوی زیانونه د پیسو په ورکولو سره جبرانوي، اکثراً خلک او یا شرکتونه د خپلو احتمالی زیانونو د جبران په خاطر، د بیمې په موسسو کې غړیتوب تر لاسه کوي او د خپل غړیتوب حق ورکوي.

خود دې شمېرې څخه یو کم شمېرې عملاً د پیسو سره مخامخ کېږي او د بیمې د موسسو څخه د رسیدلی زیان پیسې ترلاسه کوي. په دې ترتیب سره د بیمې موسسې کولی شي چې هغه زیانونه چې یو شمېر غړوته رسیدلی دي، جبران کاندي.

### د بیمې ډولونه:

د مالونو او یا هغه څیزونو پر اساس چې بیمه کېږي، بیمه په مختلفو ډولونو باندې وېشل کېږي چې ډېر مهم یې ۱- داشخاصوبیمې، ۲- د مالونو بیمې، ۳- د مسؤولیت د بیمې څخه عبارت دي.

### د اشخاصو بیمه:

د اشخاصو په بیمه کې په خپله انسان بیمه کېږي. دا شخاصو بیمه مختلف ډولونه لري چې خورا مهم یې عبارت دی له:

#### ۱- روغتیایې بیمه:

انسان تل د ناروغیو د خطر سره مخامخ او درملنې ته اړوي،کله په یوتن او یا کورنیو باندې د درملنې مصرف ډېرېږي. روغتیایي بیمه د بیمه شوو کسانو د درملنې ټولې او یا یو څه مصرف شوي پېسې ورکوي، په دې سبب روغتیایي بیمه د زیات اهمیت څخه برخمنه ده.

#### ۲- دپېښو بیمه:

د ا ډول بیمه خلک د مرګ او ژوبلې په وړاندې چې په کاري چاپیریال لکه کارځایونو او نورو کې منځته راځي،بیمه کوي.

#### ۳- د عمر بیمه:

د انسان د اندیښنو څخه یوه یې هم دا وي چې نه ویلي کېږي چې دده له مرګه وروسته یې د کورنی غړي له اقتصادي ستونزو سره مخامخ شي. د دې اندیښنې د کمولو په خاطر ځینې خلک هغه وخت چې لا ژوندي وي، یو څه پیسې د غړیتوب د حق په نامه بیمې ته ورکوي

ترڅو بیمه د ده دمرګه وروسته د ده د کورنۍ ژوند تامین کړي.

### د مالونو بیمه:

دا ډول بیمه کور، دوکان، موټر، شرکت او دې ته ورته نور شیان داورلګیدنې، غلا او ټکر په وړاندې د ټاکلو پیسو په بدل کې، بیمه کوي.

### د مسؤولیت بیمه:

ځینې مسوولیتونه ډېر مهم وي او څوک یې چې سرته رسوي، امکان لري چې د سهوې او خطائي له مخې خلکوته غټ مالي او ځاني زیانونه ور واړوي. د بېلګې په توګه: امکان لري چې یو ډاکتر چاته د یوې دوا د ناسم تجویز له مخې تاوان ورسوي او یا یې مړکړي، بیمه د داسې خطرونو روحي اندیښنواو مالي زیانونو د مخنیوي په خاطر، هغه څوک چې په داسې چارو بوخت وي، بیمه کوي. د بیمو دغه ډولونه چې وویل شول، په زیاترو هېوادونو کې شته. زموږ په هېواد کې له بده مرغه چې بیمې تراوسه پورې پراختیا نده موندلې. موږ هیله من یو چې دولت او خصوصي پانګه اچوونکي د ټولنیز ژوند دغې مهمې برخې ته زیاته پاملرنه وکړي.

### د لوست تکرار:

- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------

### پوښتنې :

۱. کله چې د ستونزو سره مخامخ کېږو او نه شو کولی چې هغه په یوازې توګه حل کړو، له نورو څخه هیله لرو؟

۲. کوم سازمان د جنګ ځپلیو او طبیعي پېښو د زیانمنو سره د مرستې په خاطر جوړشوی دی؟

۳. بیمه کوم کار زموږ لپاره سرته رسوي؟

٤. د بیمې د ډولونو نومونه واخلئ.

۵. د اشخاصو د بیمې او مالي بیمې تر منځ څه توپیر موجود دی؟ څرګند یې کړئ.

### فعالیت:

په دوو ډلو ووېشل شئ، یوه ډله دې د سرې میاشتې او بله ډله دې د بیمې په باره کې څېړنه وکړي. د خپلې څېړنې پایله په ټولګي کې ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټولنيزو خدمتونو د موسسو سره آشنا شو(۳)



د ټولنيزو خدمتونو د موسسو دپېژندګلوۍ په لړکې، په دې لوست کې له درونورو مؤسسو سره آشنا کېږو.

**پرتله يې کړئ:**

د اسلام ستر پيغمبر(ص) فرمايلي دي: نظافت او پاکي د ايمان يوه برخه ده. دغه حديث شريف ته په پاملرنې سره ستاسې له نظره:

۱. د چټل او نا پاک کور په پاک کور باندې د بدلولو لپاره څه بايد وکړو؟
۲. د خپل کلي او د ښار د ښکلا او پاکۍ لپاره څه کارونه بايد سرته ورسوو؟
۳. آيا تاسې کولی شئ چې د خپل کلي او ښاراړوند د پاکۍ او ښکلاتېولې چارې په يوازې توګه سرته ورسوئ؟

لکه څرنګه چې د خپل کور د ښکلاو پاکۍ په ساتنه کې ټول بايد هڅه او کوښښ وکړو، همدارنګه بايد د ژوندانه د ستر چاپېريال (کلي- ښار) په باره کې هم بايد هڅه او کوښښ وکړو.
هر څومره چې چاپېريال پراخ وي په همغه اندازه بايد زيات کارونه تر سره شي.
د بېلګې په توګه : د کورونو او سړکونو څخه د خځلواو ناپاکيو راغونډول، د ويالو پاکول او



(c) ketabton.com: The Digital Library

د سړکونو جارو کول یوې مؤسسې ته اړتیا لري چې هره ورځ په پرله پسې توګه دغه کارونه سرته ورسوي، ښاروالي هغه موسسه ده چې په ښارونو کې ددې چارو د سرته رسولو لپاره جوړه شوې ده. آیا د ښاروالی دنده یوازې د ښارپاکول دي؟
ښاروالي نورې دندې هم سرته رسوي لکه:
-د ښار ښکلا د ساتنې په خاطر، دکورونو او دوکانونو د جوړېدو څارنه.
-د تګ او را تګ په خاطر د سړکونو پخول.
-دعمومي پارکونو جوړول او د ښار په مختلفو برخو کې د نیالګیو او ګلانو کرل او کېنول.
-د عمومي تشنابونو جوړول.



## خبرې پرې وکړئ:

د لاندې پوښتنو په باره کې یو له بله سره وغږېږئ.

۱.که چېرې د چا مال او ځان تر ګواښ لاندې راشي، داسې سازمان چې له هغه څخه، ساتنه وکړي، شته؟

۲.که چېرې داسې سازمان موجود وي، د هغه د دندو په باره کې سره وږغېږئ.

## کومه اداره زموږ امنیت تامینوي؟

د انسان له ډېرو مهمو اړتیاوو څخه یوه یې هم امنیت دی. په ټولنه کې ډول، ډول خطرونه شته چې د انسان امنیت ګواښوي (تهدیدوي) دولتونو د ډېرو پخوازمانو څخه یو شمېر وسله والو کسانو ته د ښار د امنیت د ساتلو دنده سپارله، دغه ډله په مختلفو و ختونو او ټولنو کې په مختلفو نومونو سره یادیدل.
په نننیو ټولنو کې په ټول هېواد کې د پولیس په نامه یو ډېر پر مختللي سازمان شته چې پوه



(c) ketabton.com: The Digital Library

او په امنيتي وسايلو سنبال کسان په هغه کې کار کوي چې اصلي دنده يې د ټولنې د نظم او امنيت ساتل دي. زموږ ملي پوليس يو له خدمتګارو سازمانونو څخه دي چې شپه او ورځ د خلکو د نظم او امنيت د ساتلو لپاره کوښښ کوي. پوليس په ټول هاند سره د نشه يي توکو د قاچاق چيانو، غلو اوتخريبي عناصرو په وړاندې په مېړانه و دريږي تر دې حده پورې چې د خلکود نظم او امنيت د ساتلو په لاره کې د هغوی يو شمېر خپل ژوند له لاسه ورکوي او ژوبل کېږي. زموږ پوليس هره ورځ پياوړی او ځواکمن کېږي. د ټولنې هر غړی دنده لري چې د ټولنې د امنيت او هو سايننې په لار کې زحمت وګالي. له همدې کبله موږ کوښښ کوو چې د پوليسو سره د مرستې او همکارۍ له لارې د خپل هېواد د امنيت او هوسايننې لپاره خپله ملي دنده تر سره کړو. موږ د پوليسو د هغه خدمتونو درناوی کوو چې دوي يې سرته رسوي او کوښښ کوو چې تل د خپلو ملي پوليسو ملاتړي واوسو.



ملي پوليس

## خبرې پرې وکړئ:

په ښارونو کې نقليه وسايط ډېردي. د هغوی په تګ را تګ کې د نظم ټينګول يو زيات شمېر خلکو او ځانګړو مقراتوته اړتيالري. ستاسې له نظره:

۱. کوم سازمان په ښارونو کې د نقليه وسايطو په تګ راتګ کې د نظم راوستو دنده په غاړه لري؟

۲. آيا دا امکان شته چې د داسې سازمان له موجوديت پرته په ښارونو کې ژوندو کړو؟ ولې؟

### د ترافيکو پوليس زموږ په ژوند انه کې څه رول لوبوي؟

لکه څرنګه چې پوهېږو په کليو کې نسبتاً لږ شمېر خلک ژوند کوي. د انسانانو، څارويو او نقليه وسايطو تګ راتګ خلکو ته ستونزې نه پېښوي. د ځمکې پراختيا او د جمعيت کموالی، خلکوته د دې اجازه ورکوي چې په آسانۍ سره ځای په ځای شي او هېڅوک د بل چا د ربړونې لامل ونه ګرځي. خو په ښارونو کې، برعکس زيات شمېر خلک په يوه تنګه سيمه کې ژوند کوي. په ځينې شپېو کې، ګڼ شمېر خلک څه پلي او څه سپاره د ښار سړکونو ته ورګډيږي. که چېرې نظم او مقررات موجود نه وي او داسې څوک نه وي چې دغه مقررات عملي کړای شي. هر څوک به له هرې خوا څخه حرکت وکړي او



(c) ketabton.com: The Digital Library

لارې په بلکل بندېږي، دغه نظم د ترافيکو پوليس منځته راولي. د ترافيکو پوليس په ښارکې د نظم راوستو لپاره لاندې کارونه سرته رسوي:

- د سړکونو په مناسبو ځايونوکې ټاکلي علامې دروي ترڅو چلوونکي ويوهېږي چې څه وکړي. د بېلګې په توګه په ځينو واټونو کې د دريدو د منع علامه، په ځينو ځايونو کې د يو طرفه واټ علامه او دې ته ورته علامې دروي. په څلور لارو کې سره اوشنه څراغونه لګوي ترڅو موټر په وار سره حرکت وکړي او تېرشي.
- هغه چاته چې په چلولو کې بشپړ مهارت ولري، د چلولو جواز (لايسنس) ورکوي. هغه چاته چې د چلو لو جواز نه لري، په ښار کې د چلولو اجازه نه ورکوي ترڅو د ټکر لامل ونه ګرځي. سرغړوونکي چلوونکي جريمه کوي ترڅو د چلونې مقررات پر ځاې کړي..
- په داسې حال کې چې ټکروشي، سرغړوونکي معلوموي.

## د لوست تکرار:

- -------------------------------
- -------------------------------
- -------------------------------
- -------------------------------

## پوښتنې :

۱. ولې ښارونه، ښاروالیوته اړتيا لري؟
۲. د ښاروالي ډېره مهمه دنده څه شئ ده؟
۳. په ټولنه کې د پوليس دنده څه شئ ده؟
٤. د ترافيکو پوليس په ښارکې د نظم د راوستولپاره څه کارونه سرته رسوي؟
۵. آيا کلي هم د ترافيکو پوليسو ته اړتيا لري؟ ولې؟

## فعاليت:

له لاندې فعاليتونو څخه يويې د خپل ژوندانه د شرايطو سره متناسب، وټاکئ او تر سره يې کړئ.

۱. له هغو کارونو څخه چې ښاروالي يې په ښارونواو خلك يې په کليو کې ستاسې د استوګنځيو د پاکوالي او ښکلا لپاره ترسره کوي، په ليکلی توګه، د انځور او يا نقاشی په شکل کې، اطلاعات برابر کړئ او په ټولګي کې يې ولولئ.

۲. دا وڅېړئ چې په ټولنه کې دامنيت د ساتلو لپاره د خلکو او دولت دنده څه شی ده؟ د دې فعاليت د ترسره کولو لپاره د کورنی د مشرانو سره خبرې وکړئ او پايله يې ټولګيوالوته ووائې.

۳. دا وڅېړئ چې هغه څراغونه چې په څلور لارو کې لګيدلي دي، کوم رنګونه لري او هر رنګ د کومې علامې نښه ده؟ که چېرې د کلی او سيدونکي یاست، له هغو کسانو سره چې ښارته يې سفر کړئ دئ خبرې وکړئ او ځواب يې پخپلو کتابچو کې وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څپرکي لنډيز

- د ټولنيزو خدمتونو موسسې، ټولنې ته د عمومي خدمتونو د وړاندې کولو په خاطر جوړې شوي دي.
- پست يا ډاګ يوه له دغو ټولنيزو خدمتونو د موسسو څخه دئ چې د خکلو د دليکونو، مطبوعاتو (ورځپانو، مجلو، اونيزو) او نورو شيانو په لېږلو کې له يوه ځای يا شخص څخه بل ځای او يا شخص ته کار ورڅخه اخيستل کېږي.
- مخابرات د ټولنيزو خدمتونو يوه بله موسسه ده چې د خلکو تر منځ د اړيکو د نيولو د آسانياوو په خاطر جوړه شوي ده. مخابرات خلکو ته تيليفون، موبايل، فکس او انټرنېټ وړاندې کوي.
- سره مياشت د هغه چا سره چې پر طبيعي پېښو او يا جنګ جګړو کې زيانمن شوي وي، مرسته کوي.
- بيمه د خلکو سره د احتمالي پېښو د خطرونو څخه د مخنيوي په خاطر، مرسته کوي. بيمه له هغه چا څخه چې غړيتوب يې تر لاسه کوي، مياشتنۍ او يا کلنۍ د غړيتوب د حق په نامه يو څه پيسې اخلي، دا پدې معنا چې که چېرې په کومه پېښه کې زيانمن کېږي، د هغوی د مالي تاوانونو جبران پرې وکړي.
- ښاروالي، ښار پاک ساتي او د هغې د ښکلا او سمسورتيا لپاره زيار باسي.
- پوليس د خلکو امنيت ټينګوي.
- د ترافيکو پوليس نقيله وسايط تنظيموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## ډله ييزې رسنۍ

په دې څپرکي کې دا لاندې لوستونه لولئ.

- د ډله ييزو رسنيو سره آشنا شو.
- رسنۍ او ډولونه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خپرکي موخې

**له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې د دې خپرکي په پایله کې زده کړي چې:**

- را ديو هغه رسنۍ ده چې دخلکو په منځ کې تر ټولو ډېر اوريدونکي لري؛
- تلويزيون د انځوريزو خپرونو په دليل، داوريدونکو په منځ کې ډېر اثر لري؛
- مطبوعات چاپي رسنۍ دي له هغو څخه ګټه اخيستنه، سواد ته اړتيا لري؛
- د نړۍ تر ټولو نوې رسنۍ اينټرنېټ دی چې د نورو رسنيو په پرتله زياتې ښېګڼې پکې شته؛
- رسنۍ خلکوته په خبررسولو کې بنسټيزه برخه اخلي؛
- د رسنيو له لارې خلک کولی شي چې په سياسي او ټولنيزو چارو کې ګډون وکړي؛
- د رسنيو سمه خبر رسونه د بيان د آزادۍ پرته ناشوني ده؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډله ييزو رسنيو سره آشنا شو.



## پرتله يې کړئ:

انځورته وګورئ او پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

۱. په انځورکې کوم شيان وينئ؟ نومونه يې واخلئ.

۲. د هغو هريو کومې چارې سرته رسوي؟

۳. هغه چارې چې دوي يې تر سره کوي، يوه له بلې سره څه ورته والى لري؟

تاسې به راډيو اورېدلې وي او تلويزيون به موليدلى وي. همدارنګه فکر کېږي چې ورځپاڼې او مجلې موهم لوستلې وي. د دې سره سره چې هغوي بېلابېلې چارې تر سره کوي، خو بيا هم ټول په دې لاره کې چې خلک د سياسي، اقتصادي، فرهنګي، علمي او تفريحي چاروخخه خبروي، سره شريک دي. نوله دې کبله ويلى شو؛ هغه وسايل چې دنده يې خلکوته د معلوماتو او اطلاعاتو رسول دي، رسنى بلل کېږي. دغو وسايلوته له دې کبله چې دنده يې خلکو ته اطلاعات او معلومات وړاندې کول دي، ډله ييزې رسنى وايي.

رسنۍ ډېر تازه خبرونه، سياسي، اقتصادي، فرهنګي او ورزشي پېښې ټولنې ته وړاندې کوي او هغه د خپل هېواد او نړۍ د بدلونونو، علمي او فني نوښتونو څخه خبروي. رسنۍ پر خبر رسولو سربېره، د زده کړې، علمي، تفريحي او مشغولتيا د سرګرمي) پروګرامونه هم برابر وي . له دې کبله ده چې وايي: رسنۍ په عين حال کې د عمومي زده کړې وسايل هم دي. ځکه چې زده کړه د ټولنې په هر ځای کې خپروي او دښوونځي، مدرسې او د زده کړې د نورو مرکزونو دولکې( انحصار) څخه يې خلاصوي.

رسنۍ په عين حال کې چې د ماشومانو د وزګارتيا وختونه ډکوي، د زده کړې جريان يې ډېرساده او دومره اسان کړی دی چې ديوې لوبې بڼه يې ورکړې ده.

د دې خبرې په پام کې نيولو سره چې رسنۍ د اطلاع رسولو په چارو کې د کومو شيانو او لارو چارو څخه کاراخلي، هغه داوريدلو،ليدلواو ليکلو د رسنيو په ډلو وېشل کېږي.

**خبرې پرې وکړئ:**

د رسنيو د نمونو سره بلد شوئ. دا مو هم زده کړل چې ولې هغوی ته ډله ييزې رسنۍ ويل کېږي.

اوس د هغو د هرې يوې په باره کې فکر وکړئ چې هغوی يوه له بلې سره څه توپير ونه لري.

## د رسنيو ډولونه:

### راديو:

راديو يوه اوريدونکي رسنۍ ده چې خپل پروګرامونه د غږييزو څپوله لارې د اوريدونکو غوږونوته رسوي. په رسنيو کې راديو تر نورو پخوانۍرسنۍ شمېرل کېږي. هغه څوک چې په کوم بل کار باندې هم بوخت وي، راديو اوريدلی شي. د بېلګې په توګه د کور مېرمن په پخلنځي کې د کار کولو په وخت کې کولی شي چې راديو واوري او يا يو چلوونکی د چلولو په وخت کې د راديو له پروګرامونو څخه ګټه اخيستی شي په داسې حال کې چې هغوی نشي کولی له هغه رسنيو څخه چې بايد وکتل شي، ګټه واخلي.

### تلويزيون:

تلويزيون يوه ليدونکي – اوريدونکي رسنۍ ده. تلويزيون د شيانو خوځنده ياګرځنده انځور لکه څرنګه چې په واقعيت کې وي، هغسې يې د اواز سره يو ځای ښکاره کوي.

تلويزيون د راديو په نسبت دغه ښېګڼه لري چې شيان او پېښې د انځورونو له لارې خلکوته ورښيي. د بېلګې په توګه که چېرې وغواړي چې د خپلواکۍ د جشن د مراسمو پر ځای کيدو رپوټ برابر کړي، نو يوازې د راديو په څېر هغه په ژبه او خبرې کولو سره نه بيانوي، بلکې د هغې خوځنده اوګرځنده انځورونه هم ښکاره کوي او ليدونکي کولی شي چې هغه لکه څرنګه چې تېرشويدی، ووينې.



(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library

## چاپ شوي خپرونه ( مطبوعات)

مطبوعات یا خپرونې چې ورځپاڼې، اونېزې او مجلې پکې شاملې دي، د لیکنیزو یا چاپي رسنیو څخه شمېرل کېږي. په مطبوعاتو کې متن او انځور په تور اوسپین او یا هم په رنګه ډول د کاغذ پر مخ چاپوې او په منظمه توګه یې خپلو لوستونکو او اخیستونکو ته وړاندې کوي.

له دې سره، سره چې نن ورځ پیاوړې رسنۍ لکه تلویزیون په ټولو ادارو اوکورونوکې د اطلاعاتو په خپرولوکې زیاته برخه اخلي، خو مطبوعات همغه شان ژوندي او فعال دي اوچلوونکي یې ډېر زیات تبلیغاتي واک او قدرت په لاس کې لري. د خپرونو دغوره امتیازونو څخه یو یې دادی چې په بشپړه توګه زموږ په واک کې دي او کولی شو چې یو مطلب هر څوځله چې وغواړو،په هغه کې مطالعه کړو او د دې پر خلاف د راډیو او تلویزیون خپرونې د لیدونکو او اوریدونکو په واک کې نه وي او دهغو خپریدل ځانته ټاکلی وخت لري. د لیدونکو او اوریدنکو رسنیو سره د مطبوعاتو یو غوره توپیر دادی چې د چاپي خپرونو څخه ګټه اخیستنه لږ څه سواد ته اړتیا لري.سړی باید د لیکلو او لوستلو سواد ولري ترڅو وکولی شي د ورځپاڼو، اونیزو او نورو خپرونو د اطلاعاتو څخه ګټه واخلي په داسې حال کې چې د راډیو او تلویزیون د خپرونو لپاره دغه راز بندیز او محدودیت نشته او هر څوک کولی شي چې هغه واوري او ویې ګوري.

**اېنټرنټ**:



نن سبا یوه ډېره پیاوړې رسنۍ ټولنې ته وړاندې شوې ده چې د ټولو رسنیو امتیازات لري او هغه اېنټرنټ دی.

اېنټرنټ یوه نښلوونکې وسیله ده چې د نړۍ زیات شمېر کمپیوټرونه یو له بله سره نښلوي او هر څوک د نړۍ په هر ګوټ کې چې وي، کولی شي چې د نړۍ د نورو کمپیوټرونو سره ونښلي او له هغو اطلاعاتو څخه چې

په هغوکې شته او یا وي، ګټه واخلي. د انټرنټ له لارې کولی شو چې لیکلی متن، انځور آواز او کمپیوټري پروګرامونه یو له بل سره بدل ( مبادله) کړو. له انټرنټ څخه په ګټه اخیستنې سره کولی شو چې نوروته لیک ولیکو، له هغوی سره د غږ او انځور له لارې اړیکې ټینګې کړو او خبرې ور سره وکړو.

په انټرنټ کې خبرونه، علمي او مطبوعاتي ډېرې زېرمې ترګوتوکېږي چې کولی شو له هغو څخه ګټه واخلو. انټرنټ هم د مطبوعاتو په څېر د اشخاصو ترکنټرول او څارنې لاندې دی او د راډیو او تلویزیون غوندې تېریدونکی حالت نه لري.

## د لوست تکرار:

- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

## پوښتنې:

۱. ډله ییزې رسنۍ څه کار کوي؟
۲. لیدونکي، اوریدونکي او لیکونکي رسنۍ د مثال سره وښیاست،
۳. اوریدونکي رسنۍ کومې ښېګڼې او کوم محدودیتونه لري؟
٤ اوریدونکي – لیدونکی رسنۍ څه ښېګڼې لري؟
٥. انټرنټ څه شی دی او څه کار کوي؟

## فعالیت:

د ښوونکي، پلار مور او یانورو پوهو کسانو په مرسته د ټولو رسنیو ځانګړتیاوې او ښېګڼې په (۱۰) کرښوکې ولیکئ او په ټولګي کې یې ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسنۍ او ټولنه



## خبرې پرې وکړئ:

په تېر لوست کې مو ولوستل چې ډله ییزې رسنۍ کومې دي او څه کارونه سرته رسوي. ستاسې له نظره:

- آیا رسنۍ د ټولنې په سمون ( اصلاح) کې برخه اخیستلی شي؟ څه ډول؟

## رسنۍ او دخلکو برخه د ټولنې په اداره کې

په تېر لوست کې مو ولوستل چې رسنۍ ډول – ډول چارې سرته رسوي؛ لکه د خبررسولو، تفریحي، زده کړې او د ژوند انه د اړتیاو څخه د خبریدو چارې. رسنۍ په ټولنه کې د خلکو د سترګو او غوږونو په څېر دي؛ ځکه چې زیار کښ خبریالان د هر ډول خطر او زحمت د زغملو سره،سره په هر ځای کې حاضرېږي او خلک د پېښو له جریان څخه خبروي. سر بېره پردې رسنۍ پېښې تحلیلوي او څېړي او خلک د هغو د عواملو او راتلونکي څخه خبروي. په دې توګه خلک تل د سیاسي، اقتصادي اوټولنیزو پېښو له بهیر څخه خبر وي چې د دولتونو په اداره اوکنټرول کې ونډه واخلي، خلک د رسینو له لارې کولی شي چې د چارواکو کارونه او پروګرامونه تر څارنې لاندې ونیسي او خپل د سمون ( اصلاح) نظریات اونیوکې هغوی ته ووایي. دولتي چارواکي هم د



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسینو له لارې کولی شي چې د خلکو له نظریو څخه خبرشي او په راتلونکي کې هغه په خپلو کړنو کې په پام کې ونیسي. له بله پلوه رسنۍ خلك له خپلو حقونو او دندو څخه خبروي. کله چې خلك خپل حقونه او دندې وپېژني، د خپل هېواد د سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي پېښو په وړاندې د مسوولیت احساس کوي، هغه څوك چې دخپل برخلیك په وړاندې د مسوولیت احساس وکړي، نه پرېږدي چې ناپوه او جاهل خلك پرې حکومت وکړي اوپه برخلیك یې لوبې وکړي.

## رسنۍ او ټولنیزې ستونزې:

د رسنیو ډېرو مهمو کارونو څخه یوې دادی چې خلك د ټولنې له ستونزو او مسایلو څخه خبروي. زموږ هېواد چې څولسیزې جګړې یې تېرې کړي دی، د زیاتو ستونزو سره مخامخ دی.

رسنۍ باید خلك له هغو څخه خبر کړي. ماینونه او ناچودلي مهمات هره ورځ زموږ یو زیات شمېر هېواد وال د مرګ کندې ته سپاري خود دوي د خطرونو څخه خبریدنه، کولی شي چې د دغه ضایعاتو کچه را ټیټه کړي.

د مخدره توکو تولید، قاچاق او استعمالول زموږ د ټولنې یوه بله ستونزه ده چې زموږ خلك په دې وروستیو کلونو کې ور سره مخامخ دي؛ د افسوس خبره داده چې زموږ زیات شمېر زلمیان او تنکي زلمیان د دې توکو په استعمال باندې روږدي شوي دی. که څه هم د روږدی کید و د پراختیا مخنیوی زموږ د ټولو دنده ده، خو دولت او رسنۍ باید د هغې د مخنیوي په لاره کې زیات هاند او کوښښ وکړي.

## خبرې پرې وکړئ:

لاندې پوښتنې په ځیر سره ولولئ؛ په هکله یې خبرې وکړئ او خپل نظریات بیان کړئ.

۱. ستاسې له نظره د بیان آزادی څه شئ ده؟

۲. د بیان آزادي د رسنیو لپاره څه اهمیت درلودلی شي؟ څرګند یې کړئ.

## د بیان آزادي او رسنۍ:

رسنۍ هغه وخت کولی شي چې خپل کارونه په ښه توګه سرته ورسوي چې د خپلو پروګرامونو او مطلبونو د خپریدولپاره لازمه او مناسبه آزادی ولري. خبریالان او لیکوالان پخپلو دندوکې دډاډ او مصئونیت احساس وکړي او په ټولنه او په ځانګړې توګه په رسنیو باندې د ډار او سانسور فضا حاکمه نه وي.

آزاده او له ظلمه خلاصه ټولنه د سمو او صحیحو رسنیو د موجودیت په پایله کې منځته راځي.
رسنۍ د بیان د آزادۍ په شتون کې معنا پیدا کوي. په استبدادي حکومتونو کې چې د بیان آزادی نه وي آزادو رسنیوته د فعالیت امکانات ډېر کم وي او نشي کولی چې په ټولنه کې موجود واقعیتونه بیان کړي؛ ځکه چې په داسې حکومتونو کې، رسنۍ نشي کولی هغه مطلبونه نشر او خپاره کړي چې د حکومت د غوښتنو سره مخالف وي.په دې هېوادونو کې رسنۍ زیاتره په دولت پورې تړلي وي، د خلکو د غوښتنو پر ځای، د چارواکو غوښتنې منعکسوي.دغه ډول رسنۍ خلک د ړنده هڅوي چې په پټو سترګو د حکومت څخه اطاعت وکړي.د چارواکو کړه وړه په ځای بولي او مناسب یې ښکاره کوي.دا په ځای خبره ده چې پدې صورت کې رسنۍ نه یوازې دا چې د آزادۍ او دموکراسۍ سره مرسته نشي کولی، بلکې هغوته زیات زیان اړوي.

**د لوست تکرار:**

- ----------------------------------
- --------------------------------
- --------------------------------
- --------------------------------
- -------------------------------
- -------------------------------

**پوښتنې:**

۱.ولې ویل کېږي چې رسنۍ د خلکو سترګې او غوږونه دي؟ بیان یې کړئ.
۲.رسنۍ څه ډول کولی شي چې د دولت په اداره او کنټرول کې د خلکو رول پیاوړی کړي؟
۳.رسنۍ څه ډول خلک د ټولنیزو چارو په وړاندې د مسوولیت اخیستو او قبلولو ته تیاروي؟
٤.آیا رسنۍ په هر ډول شرایطو کې یو شان عمل کوي؟ څرګند یې کړئ.
٥.رسنۍ په استبدادي ټولنو کې څرنګه عمل کوي؟

**فعالیت:**

یوه رسنۍ چې ستاسې په واک کې ده، خوښه کړئ. بیا ووایاست چې آیا د بیان آزادي پکې شته او کنه؟ خپل دلایل په یوه مخ کې ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څپرکي لنډيز

- راديو، تلويزيون، مطبوعات او انټرنېټ ډله ييزې رسنۍ بلل کېږي ځکه چې اطلاعات او معلومات ټولو او يا زياتره ( اکثريت ) خلکو ته رسوي.
- ډله ييزي رسنۍ خبرونه نشروي، د زده کړې او تفريحي خپرونې هم خپروي.
- رسنۍ په درو برخو وېشل کېږي: د اوريدنی رسنۍ، د ليکنې رسنۍ او د اوريدنۍ ليدني رسنۍ.
- رسنۍ د خبررسولو د نقش او رول ترسره کولو سره، د خلکو د سترګو او غوږونو په څېر دي.
- دولتي چارواکي کولای شي چې د رسنيو له لارې د خلکو د ستونزو څخه خبر او اشنا شي او خلک هم کولای شي چې د رسينو له لارې خپلې نيوکې د چارواکو غوږونو ته ورسوي.
- په استبدادي هېوادونو کې رسنۍ د زورواکو په چوپړ کې وي نه د خلکو په خدمت کې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**